Facebook & Afghans



# فیسبوک او افغانان


ژباړن او لیکوال: سمیع الله "پام"

Ketabton.com

ABSTRACT
آیا د مخ کتاب (فیسبوک) له عجایبو او ضررونو خبر یاست؟

۱۴۰۰هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



N Qaeed

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مننه او کور ودانی!

ځښتې زياتي مننې کووم له اديب صيب صديق الله "وياړ" او ټولنپوه سيف الرحمن "ګيله من" چې د کتاب په ترتيب او سمونه کې يې راسره خپلې هلې ځلې وکړې،مينه او مننې.

## ډالۍ

ټولو لوستونکو او په خاصه توګه د مخ کتاب (فيسبوک) کاروونکو ته !

ALL READERES & SPECIALY FACEBOOK USERS

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


پیلیزه............................................................................................1

لومړی فصل.....................................................................................3

فیسبوک ........................................................................................3

د فیسبوک کارونکي مختنی پوښتني او شرایط:.................................................4

د فیسبوک (دمخ کتاب) تاریخچه له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۲۰ .....................................5

دوهم فصل .....................................................................................8

انټرنیټ/ فیسبوک په افغانستان کې:.............................................................8

په افغانستان کې د میرمنو لاسرسی فیسبوک ته: ................................ Error! Bookmark not defined.

د فیسبوک منفي او مثبت اړخونه:..............................................................11

☜ د فیسبوک ګټې.................................................................................12

☜ د فیسبوک زیانونه۱ .........................................................................13

په فیسبوک کې څنګه ښه نقد کولی شو!........................................................15

د خوښیو شویو لیکنو په اړه د کتونکی مسولیت.................................................17

د فیسبوک(مخ کتاب) تاوان۲ ...................................................................17

فیسبوک او اخیرت:..............................................................................20

دریم فصل .....................................................................................22

عمومي مالومات ...............................................................................22

د تیکنالوجیکي توکو ځیني ستري کمپنۍ په یوه دقیقه کې څومره ګټه کوي؟..................26

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تولنیزو رسنیو سایتونو،شبکو او ویبلاکونو ته لنډه کتنه: ........................................................ 29

❖ د فیسبوک جالبي .................................................................... 31

فیسبوک په چین کې: ....................................................................... 33

Facebook user and demographics statistics:........................................................ 33

د کتاب په اړه ........................................................................................ 38

دلیکوال لنډه پیژندنه ........................................................................ 40

ماخذونه................................................................................................ 40

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیلیزه

د هر کار لومړی تجربه ښایی له تیروتنو خالي نه وي،خو همدا تیروتنې دي چې وروسته د بریالیتوبونو په توګه رابرسیره کېږي. د یو مشهور امریکایي لیکوال کتاب خپرندوې بنسټ له دي کبله نه چاپ کاوه،چې ښایي لوستونکي به ونلري. لیکوال چې په خپل نفس باور درلود او له لیکوالۍ سره یی مینه لرله خپل هوډ له لاسه ورنکړ او خپلې لیکوالۍ ته یې دوام ورکړ. هماغه لیکوال چې خپروندې بنسټ یې له دي کبله کتاب نه چاپ کاوه،چې ښایی لوستونکي به ونلري. په نړیواله کچه دریم هغه لیکوال شو،چې کتابونه یې ډیر پلورل کیدل. نو د (فیسبوک او افغانان) تر نامه لاندې زما لومړی کتاب دی کیدایشي تېروتنې ولري. په دغه کتاب کې ما کوشش کړی،چې ځوانان د انټرنیت یا فیسبوک سمې کارونې ته وهڅووم. انټرنیټ په اوسني وخت کې د انسانانو په ژوند مهم رول لري،چې له زده کړو نیولې بیا تر اقتصاد، بازار، انلاین تجارت او ګڼو نورو برخو کې کار ترې اخیستل کېږي. انټرنیټ دي منځ ته راتللو لومړنی نښې نښانې په ۱۹۵۷م کال کې لټولی شو. دا هغه وخت و چې پخواني شوروي اتحاد خپله فضایي بیړۍ د سپوتنیک (sputnik) په نامه کیهان ته ولیږدوله. په همدې وختونو کې دي امریکا متحد ایالات هم په دي فکر کې شوو. چې څنګه به وکولی شو،چې خپلې فضایې پروژې تر ژورې او دقیقې څارنې لاندې راولي. په ۱۹۶۲م کال کې د امریکا هوایی ځواک یو تن د Baran Paul Rand په نامه دي ته وګماره،که چیرته د امریکا په ښارونو اتومي برید وشي،نو دوي به څنګه د خپلو اتومي توغندیو پروګرام په خپل لاس کې ولرلی شي،تر څو له هره ځایه یی په واک او استعمال کې راوستی شي. Baran Paul Rand له اوږد کار او هلو ځلو وروسته هوایي ځواک ته د یو داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبکې یا نیټورک مشوره ورکړه چې په هغه کې ډیر کمپیوټرونه یو دبل سره تړلي وې او مهم مالومات له یو کمپیوټر څخه بل ته په اسانۍ انتقال شي له همدې امله یې په لومړي سر کې د ARPA (Advanced agency project research) ایجنسي په جوړولو پیل وکړ. په ۱۹٦۹م کال کې د ARPA داسي یو شبکیز سیستم جوړ کړ،چې یوازې څلور کمپیوټرونه په کې له یو بل سره تړلي وو او د همدې ایجنسۍ سره د تړاو له امله یې د ARPANET په نامه ونوموله. په ۱۹۷۲م کال کې د BBN په نوم یوې ادارې چې د ARPANET ټیکه ورسره وه. یو تن کارکونکې Ray Tomlinson لومړنی E-mail پروګرام جوړ کړ. د وخت په تیریدو ARAP نوم په DRAPA ( Defense Advanced Research Project Agency ) بدل کړای شو. په ۱۹۷۴م کال کې د همدغې ډلې لخوا دې نیټورک سیستم ته د INTERNET توری استعمال شو. نور مو وخت نه نیسم د کتاب لوستلو ته مو رابولم،له دې سره په څنګ کې باید ووایم چې دا زما لومړنۍ هڅه ده، له تېروتنو به خالي نه وي،نو زه هم مخکې له مخکې له تاسو درنو لوستونکو ښښنه غواړم.س-پام توتاخیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی فصل

## فیسبوک

فیسبوک: څنګه یی چې له نومه ښکاري Face مخ او Book کتاب یوه ټولنیزه شبکه ده،چې هر څوک بغیر له کوم قید او شرط نظریات پکې شریکولی شي. فیسبوک یوه نړیواله ټولنیزه شبکه ده چې راجستر شویو کاروونکو ته اجازه ورکوي تر څو د خپلې خوښي پروفایلونه رامینځته کړي، عکسونه او ویډیو ګاني پورته کړي، پیغامونه واستوي او دملګرو،کورنۍ او همکارانو سره اړیکه وساتي... دا چې افغانستان ته په اوسنیو وختونو کې راغلی ده خو په ډیره کمه موده کې یی له حده زیات مینوال پیدا کړل او مشغول یی وساتل.

**Facebook is a famous media in social media. People use it for different purposes, where users can post comments, share photographs, and post links to news or other interesting content on the web, chat live, and watch short-form video. Shared content can be made publicly accessible, or it can be shared only among a select group of friends or family, or with a single person.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فیسبوک کارونکي مختنی پوښتني او شرایط:

کله چې د فیسبوک پیژنیال یا ایدي جوړوئ او پرانیزیی ی نو لومړی له خپل ځان دغه پوښتني وکړئ.! آیا فیسبوک په څه نیت او مقصد جوړوئ او کاروئ؟ ۲- آیا فیسبوک به د یو مسلمان په صفت ددین اسلام او شریعت په اصولو برابر استعمال کړئ؟ ۳- آیا فیسبوک خو د خپل ځان او یا مسلمان په ضرر نه کاروئ؟ ۴- آیا دفیسبوک په کتلو خو خپل قیمتي وخت نه ضایع کوئ؟ ۵- آیا پر دې رسنی خو به فحشا،بد اخلاقي بی حیایی نه خپروئ؟ ٦- آیا فیسبوک کې خو د عامو ښځو او یا د مسلمانو خویندو تصویرونه نه پورته کوئ؟ ۸- آیا فیسبوک کې خو لوڅ بی حجابه،بی شرمه،بی حیا او ناروا عکسونه ویدیوګاني نه ګورئ؟ ۹- آیا پر فیسبوک خو غیرې اسلامي او اخلاقي پوستونه،لایکونه او کمینټونه نه کوئ؟ ۱۰- آیا فیسبوک کې خو د مسلمان په صفت د اسلام مبارک دین او اساساتو توهین او سپکاوی نه کوئ؟ ۱۱- آیا د دی رسنی پر صحیح استعمال د ځان باور لرئ؟ ۱۲- آیا د فیسبوک په کتلو خو لمونځ نه پریږدئ؟ ۱۳- آیا فیسبوک خو د اسلام پر ضد او کفر په ګټه نه استعمالوئ؟ ۱۴- آیا فیسبوک خو د کرکي،نفرت او د خلکو تر منځ د جنګ او فساد زریعه نه جوړې؟

نو اوس که کوم مسلمان ورور تر نن ورځي پورې فیسبوک او انټرنیټ ناسم استعمالوې،نو رادی شی سرله نن ورځي دی الله (ج) ته توبه کړي او دخپل عبث وخت او ګناهونو عفوه دي وغواړي له دی سره دی په ځنګ کې د خپل پیژنیال یا فیسبوک څخه چټلیات پاک یا ډیلیټ کړي که چیرې دا کار اونه کړئ ممکن ستاسو ددنیا اخرت د ورانولو سبب شي لکه څنګه چې د عمر (رض) وینا ده:- تاسو له خپل ځان سره حساب وکړئ مخکې له دی چې د قیامت په ورځ حساب درسره وشئ.!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فیسبوک (دمخ کتاب) تاریخچه له ۲۰۰۳ څخه تر ۲۰۲۰:

فیسبوک په کال ۲۰۰۳ کې د فاسیمش په نامه د یوی لوبی په څیر ژوند پیل کړ،چې د مارک زیکربرګ او د هغه ملګرې ایډوارد سورین لخوا جوړه شوې وه. دوې دواړو د امریکا په هارډ ورډ پوهنتون کې زده کړې کولې. فاسیمش یوه داسې لوبه وه چې ترسره کوونکو ته به یې دوه عکسونه وړاندی کیدل او د دوې ترمنځ به په عکس باندې مختلف ډوله نظرونه ورکول. نو یو کال وروسته (۲۰۰۴) د فبروری په څلورمه د نولس کلن مارک زیکربرګ دلیلې له خونی فیسبوک اوسنۍ ډوله شکل وموند او د هغه مقبولیت په چټکۍ سره وده وکړه .....په همدې کال د مارچ په لومړۍ نیټه د ستانفورډ،کولمبیا او ییل پوهنتونونو زده کوونکو ته اجازه ورکړل شوه تر څو دفیسبوک په سایټ کې ګډون وکړې او هر چا په اسانۍ نشول کولی چې فیسبوک ته لاسرسی ولرې ځکه په لومړې دور کې فیسبوک دیو سایټ په شکل په انټرنیټ (دنړۍ په جال) کې کارول کیده چې مشریی زیکربرګ کوله. په همدې کال دجون په اوله دا شرکت دامریکا کلیفورنیا ایالت ته ځې او هلته په فعالیت پیل کوې او د ډسمبر په اوله په همدې یو سایټ کې یو میلیون فعال کاروونکې پیدا کوې. په کال ۲۰۰۵ د سیپټمبر په لومړۍ دعالی لیسو زده کوونکو ته اجازه ورکول کیږی تر څو فیسبوک سره یو ځای شې نو له همدی وجې د ډسمبر په اوله د سایت کاروونکې شپږ میلیونه ته رسیږې. او په کال ۲۰۰٦ د سیپټمبر ۲۸ مه فیسبوک د هر چا د ثبت اجازه ورکوې. همدارنګه په کال ۲۰۰۷ د مارچ په ۲۸ مه په مارک زیکربرګ تور پورې کیږې چې ده د فیسبوک دجوړولو لپاره د خپل همصنفی ایډوارډ څخه مفکوره غلا کړې! نو فدرال محکمه ددې معاملې د حل لپاره له دواړو لوریو څخه د ٦۵ میلیونه ډالرو په اخیستو دحل موافقه کوې. په کال ۲۰۰۸ د فبروری په نهمه فیسبوک د تنۍ یا پروګرام(App) په توګه معرفې شو. تر څو هر وګړی وکولای شی فیسبوک خلاص او وکاروې. نو اوس د نړۍ زیاتره وګړې د فسیبوک Application یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروګرام په نصب سره اسانه د مخ کتاب کارولي شي. د پی سی(pc) نړیوالی مجلي په وینا،د جون په لومړۍ ۲۰۰۹ کال فیسبوک په متحده ایالاتو کې دټولنیزو شبکو په شمیر کې راغي،ځکه دامریکا دخلکو تقاضا دا وه چې فیسبوک باید په چټکو ټولنیزو شبکو کې شمار شي. په کال ۲۰۱۰ د اکتوبر په اوله دفیسبوک په پرده فلم خپور شو،یعنی په فیسبوک کې دویډیو خپرولو تنۍ اضافه شوه. په کال ۲۰۱۱ کې هم نورو کلنو ته ورته په فیسبوک کې نوې زیاتوني راغلي تر څو خلک مشغول وساتي. ۲۰۱۲ د اپریل نهمه هم د نوښتونو خالي نووه،پدي کال فیسبوک اعلان وکړ چې د انځور اخیستلو ساحه یی پیرلي،یاده ساحه یی د انسټاګرام په نامه یاده کړه، پدي ساحه یا کاریال کې کاروونکي وګړي کولی شی خپل خاص تصویرونه په ښه او غوره کیفیت خپاره کړي. په همدي کال د اکتوبر په څلورمه فیسبوک میاشتني فعاله کاروونکو شمیر یو میلیارد ته رسیږي. په کال ۲۰۱۳ کې لیسکر اډوارډ سنوډن د <u>NSA</u> پرایزم پروګرام په اړه اسناد خپروي،سنوډن ادعا کوی چې <u>NSA</u> دفیسبوک او نورو انټرنیټی شرکتونو کاروونکو څارنه کوې. خو زیکربرګ بیا له یادي ادعا څخه انکار کوی چې دوي به همکاري ورسره کړې وي. همدارنګه په ۲۰۱۴ د فبروري اوله فیسبوک اعلان وکړ چې د ګرځنده پیغام رسوني لپاره یی وټساپ په ۱۹ میلیارده ډالرو پیرودنه وکړه،نو تر همدي کاله فیسبوک شرکت دوه پروګرامونه یا Apps وپیرل لومړۍ انسټاګرام او دوهم وټساپ چې اوس هم دواړه کاریالونه دفیسبوک برخي ګڼل کیږي. په همدې کال د جون په ولسمه څیړنو ومونډله هر هغه څوک چې منفی فکر ولری نو لږ څه منفی پوسټونه به تولید کړي،نو هغه خلک چې منفی منځپانګه لري هغه یی په منفی ګروپ کې شامل کړل،او هغه څوک چې مثبت فکر لری هغوي په مثبت کې شامل شول، له دي وروسته دفیسبوک شرکت وکولی شول چې دمنفی او مثبت فکر لرونکي په اسانه سره وپیژني. په ۲۰۱۵ د اګسټ په ۲۴ مه فیسبوک یو داسي پړاو ته ورسید کوم چې یو میلیارد کاروونکي په یوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ټولنيزې شبکې ته ننوتل،نو دا د فيسبوک شرکت لپاره ډير د پرمختګ کال و. په همدی کال د فبروری په ۲۴ مه فيسبوک د خندا،واو،مينی او ناراض غبرگون بکسونه ور اضافه کړه تر څو خلک يی د پوسټونو په ځواب کې خلک کليک وکړي. همدارنگه په ۲۰۱٦ او ۲۰۱۷ کلنو کې هم د فيسبوک کاروونکو په شمير کې د پام وړ زياتوالی راغی. او په ۲۰۱۸ د جون په ۳۰ مه دنړۍ په کچه فيسبوک ۲,۲۳ ميلیارده مياشتني فعال کاروونکي درلودل،همدارنگه شرکت اټکل کوي چې هره ورځ ۱,۴۷ ميلیارده فعاله کاروونکي لري. په کال ۲۰۱۹ کې د پراخې نړۍ څخه فيسبوک ۲,۳۸ فعال مياشني کاروونکي درلودل (MAUs) او د ياد کال په پرتله ۲۰۲۰ کې فيسبوک ۲,۷۴ بيليونه فعال مياشتني کاروونکي جوړ کړه او له دی سره يی ورځ تر بلې زياتوالی موند... مخکې له دی چې دفيسبوک راتګ په افغانستان کې وڅيړو،نو ښه به دا وی چې ووايو ټولنيزو رسنيو ته په افغانستان کې کله اجازه ورکړل شوه. افغانستان لږ تر لږه له پرمختيايی هيوادونو څخه دی،حال دا چې دلسيزو جګړو او د بهرنۍ پانګوالی نشتوالی هم ليدل کيږي. د افغانستان د اساسی قانوني له مخې دبيان ازادی د امتياز وړ ده،او هر افغان حق لري چې د قانون له حکمونو سره سم د دولتي مقاماتو پرته موضوعات چاپ او خپاره کړي. په هر صورت د قانون نور حدود واضح دي! د اساسی قانون له مخې هيڅ قانون د اسلام سپيڅلی دين د عقيدې او احکامو مخالف نه وې. د ډليزو رسنيو قانون ددی قانون اصولو لپاره د خورا پياوړي اطاعت لپاره په چټکۍ سره پاملرنه کيږي. د رسنيو قانون په افغانستان کې په کال۱۳۸۳ د قوس ۲۸ مه د ولسمشر حامد کرزی لخوا تصويب شو،چې د ملي مقننه قوی تاسيس د مخه په څلورو پراخو محتوياتو کټګوريو باندې بنديز ولګوه:۱ د اسلام او نورو دينونو په ضد خبر نه خپرول،د افرادو په اړه بد مرغه يا سپکاوی مواد نه خپرول،د افغانستان د اساسی قانون او جزا قانون سره مخالف دي. نو له کله راهيسی چې په افغانستان کې تلويزينونو،راډيوګانو او نورو ټولنيزو شبکو ته اجازه ورکړل شوه،د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد په کلتور د افرادو او قبیلو تر منځ تاو تریخوالی مخ پر زیاتیدو ده،او لدی سره په څنګ کې مثبت سهولتونه هم راغلي تر څو خلک په اسانۍ دهیواد له حلاتو خبر شي.

## دوهم فصل

## انټرنیټ/ فیسبوک په افغانستان کې

مخکې له دی چې اصلي موضوع ته لاړ شو مهمه ده چې ټولنیزه رسنۍ (social media)وپیژنو. تعریف؛ د لغوي پلوه social په معنا د ټولنیز چې د society یا ټولني ستاینوم دی،یعنی هغه څه چې په ټولنه پوري مربوط وي او Media د Medium جمع حالت دی چې منځګړیتوب معنا لري.نو په ټوله کې ټولنیزه رسنۍ هغه وسیله ده چې مالومات او اطلاعات د یو فرد یا ټولني څخه نورو افرادو یا ډلو ته رسوي رسنۍ یا سوشیل میډیا بلل کیږي،چې راډیو،تلویزیون،اخبار،مجلو،کتابونو او انټرنیټ لپاره کارول کیږي. انټرنیټ په افغانستان کې: د لومړي ځل لپاره انترنیټ په افغانستان کې د پخوانی ولسمشر حامد کرزی دفتر لخوا په ۲۰۰۲ کال کې په کار پیل وکړ. مخکې له دی په انترنیټو شبکو بندیز وو ځکه د طالبانو حکومت پدې باورې و چې له دی لاري غیري قانوني او اسلامې ضد مواد خپروي. وروسته د کرزی له دفتر څخه انترنیټ د کابل پولیټیکل پوهنتون ته د کاروني اجازه ورکړل شوه. او په کال ۲۰۰۳ تر هوایی ډګر پوري ورسید چې پدي وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د پنځو فعالو خدماتي شبکو څښتن شو. د یو څو کلنو په تیریدو وروسته فیسبوک په افغانستان کې په فعالیت پیل وکړ،داسی اټکل کیږي چې فیسبوک په ۲۰۰٦ کې په کار پیل وکړ،په لومړیو کې خاصو وګړو فیسبوک ته لاسرسی درلود،خو په چټکۍ سره یی کاروونکو وده وکړه. اوسنی حکومت هم انټرنیټ د هیواد لپاره د ودې او پرمختیا یوه مهمه سرچینه ګڼي،پدې باور دي چې ای سی ټی ICT به وکولی شی د زیانمن شویو ډلو فرصتونه رامنځ ته کړي او بازار ته د بیوزله کلیوالو لاسرسی ښه کړي. ICT د انټرنیټ د معلوماتو یوه پرمختیایی څانګه ده. او په کال ۲۰۱۲ کې د افغانستان دننه 3G یا چټک انټرنیټی خدمتونه د مخابراتو ټولو لویو شرکتونو لکه اتصالات،ام ټی ان، روشن، سلام او افغان بیسیم فعال کړل تر څو هیوادوال په چټکۍ لټون وکړي. ټولنیزي رسنۍ لاهم په افغانستان کې د خپل نفوذ په حالت کې دي، د ټولنیزو رسنیو شته کاروونکي د افغان نفوس نږدې ۹٪ استازیتوب کوي. دوي پخپله فزیکي دی او په فیسبوک تمرکز کوي، کاروونکي یی په لویه کچه ځوان ښاری او تحصیل شوي دي. په افغانستان کې د انټرنیټ لاسرسی او کارول تقریباً ۱۲٪ نفوس ته رسیږي،نو د ټولنیزو رسنیو اساسی خنډ لا تر اوسه پاتي دی. د پورته نیټی او شمیري له مخی ۹۵٪ کاروونکي د فیسبوک ایډی یا پیژنیال لري. ټولنیزي رسنۍ د لومړنۍ شخصی شبکي پراختیا او د معلوماتو لاسته راوړلو دویمه سرچینه ده.

## فیسبوک ته د افغان میرمنو لاسرسی:

☜ سمیرا حمیدی لومړنۍ افغان میرمنه

وه چې په کال ۲۰۰۹ کې یی د فیسبوک شخصی اکاونټ جوړ کړ،چې پدی سره د افغان میرمنو لومړۍ د بی حجابۍ قدم په ټولنیزه رسنۍ کیښودل شو. سمیرا وایی دا ډیر ستونزمن کار و چې افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرمني دې په فیسبوک کې ګډون وکړي،زیاته یی کړه چې زه د ۳۵ افغان میرمنو د حقونو کمپاینونو لپاره د سلاکاری په توګه کار کووم.اوس نو زیات شمیر ښځې بی له کومی وجی په فیسبوک کې په ازاد او سپین سترګی ډول فعالیت کوي! نو موږ افغان لیکوالان له افغان ښځو غواړو چې نور د غرب په چټلو دسیسو مه غولیږی او خپل ځانونه مو له دی پلیتو آلو خوندی وساتي تر څو راتلونکی کې درته خندې جوړ نشی. دا فکر مو له ذهنه اوباسي چې ولی نوري میرمني له دی پدیدو څخه برخمني دی،دوي اصلاً غولول شوی دي تر څو تاسی وغولوي. ټول کفري هیوادونه د امریکا په مشری چې په افغانستان کې میشت دي،غواړي هغه مسلمانی افغان میرمني چې په کلیو او بانډو کې ژوند کوې د ټولنیزی رسنۍ(فیسبوک،ټویټر،یوټیوب) له لارې تر نورې کفری او اسلامی نړۍ پوری ددوي بی حجابی او عکسونه ورسوي. لکه څرنګه چې امریکا ځانګړې فیسبوک پاڼي یا ګروپونه جوړ کړي چې ددی لاری دوي غواړی افغان یا د نورو اسلامی هیوادونو میرمنې بازارونو ته رامایلي کړي.! د مثال په ډول USA for Afg women USA for Iran USA Embassey in Kabul پدغو فیسبوک پاڼو کې چلوونکي د ایران او افغانستان د ښځو پر ضد نشرات کوي!یعنی که چیرته په پورتنیو هیوادونو کې کومه ښځه د سر پړونی ایسته کړي نو دوي که د هری لاری څخه وی ددی میرمنی عکس را اخلی او پوسټ کوي یی تر څو نوري میرمنې دیته وهڅوی چې خپل اسلامی او افغانی کلتور له سره لرې کړي. نو ښه به دا وی چې افغان میرمني له فیسبوک،ټویټر او یوټیوب څخه ځانونه لری وساتي!ځکه فیسبوک زموږ په لاس کې نده او په ډیری اساني د فیسبوک کمپنۍ او کفار کولی شی ستاسو شخصی معلومات په نورو انټرنیټی سایټونو کې نشر کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فیسبوک منفي او مثبت اړخونه:

اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کاروونکي پدی پوه شول چې فیسبوک کې بغیر اختیاري هم لوڅ او بربنډ عکسونه،ویډیوی او عامه فحشا لیدلی شي؟! اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کارونکي نارینه او ښځینه \ په دی پوه شول چې د ځینو مسلمانو ښځو مکمله حیا او دځینو مسلمانو نارینوو مکمل اخلاق او غیرت له منځه ولاړل؟! اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کارونکي پدې پوه شول چې فیسبوک دګټې سره سره فکرې او دماغي ناروغي هم رامنځته کوي؟! اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کارونکي پدې پوه شول چې فیسبوک کارونه مو ځانی زیان سره سره اقتصادی زیان هم مجبور کوي؟! اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کارونکي پدې پوه شول چې مسلمانان په ۱۰۰٪ کې ۷۰٪ اختیاری فیسبوک په غلطه طریقه استعمالوې او ۱۰٪ یی بغیر اختیاري په غلطه استعمالوې او ۱۰٪ یی د ډیر ځان کنټرولولو سره سره فیسبوک ددعوت او اصلاح په صورت استعمالوې او ۱۰٪ یی د تجارت یا بل ضرورت لپاره استعمالوې.! اوس خو نو ټول مسلمان فیسبوک کارونکي پدې پوه شول چې په بهرنیو هیوادو باالخصوص امریکا کې امریکایان فیسبوک په ۲۴ ساعته کې یونیم ساعت استعمالوې؟! نو محترمو لوستونکو! پدې هم پوه شولو چې فیسبوک د ګټې د تر لاسه کولو سره سره زیات تاوانونه هم لرې نو څه کول پکار دي؟! زه وایم راشي لومړی ځان اصلاح  او ورپسي ماو تا خو په فیسبوک روږدي شوې یو نو کوشش به وکړو چې پر صحیحه طریقه یی لږ څه استعمال کړو، مطلب ګټوري اصلاحي،روغتیایی،معلوماتي،اسلامې او لږ څه تفریحي لیکنې د اصلاح او د الله (ج) د رضا او د ټولنې د خدمت په نیت پکې خپري کړو تر څو نور یی ولولی او عمل پرې وکړي.! که کوم مسلمان ورور یا خور د فیسبوک پر غلط استعمال مو ولید یا خبر شوو، ددي پر ځای چې هغه ته تشویقې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګندونه(کومنټ) پرېږدو یا اصلاحي کومنټ ورته پرېږدو او بیا به هغه په ښه اخلاقي طریقه وپوهاوو او اصلاح به یې کړو تر څو هغه هم ښکلي نشرات ولري. وما علیانا الاالبلغ المبین.

☜ **د فیسبوک ګټې (Facebook Benefits) :**

نه یوازې دا چې وړیا دی بلکې د خبرو اترو تر ټولو غوره لار ده چې په وسیله یې پیغام لیږل،ویډیویي زنګ وهل ،د انځورونو او ویډیوګانو پورته کول یې له کوم اضافي لګښت. فیسبوک یې له کوم خنډ او ځنډ موږ د نړۍ په ګوټ ګوټ کې له ملګرو او دوستانو سره نښلوي. نن سبا د هر ځای خلک له فیسبوک سره بلد دي، دا بلدتیا موږ ته دا موقع راکوې چې د نورو هیوادونو له کلتور رسم او رواج سره بلد او په او په هیواد کې یې مخنیوې وکړو خو البته موږ نه یو توانیدلی چې ددې فکري جګړې مخنیوی وکړو، فیسبوک د هغو ملګرو پیدا کولو او د ملګرتیا د ژوندي ساتلو اسانه او هوسا آله ده،

ـ انسان کې مثبت تغیرات راوستل که په ښه طریقه وکارول شي.

- د ډیرو بیسواده کاروونکو د املا زده کولو سبب شوی دی.

- انلاین تجارت چې یوه ښه او دوه اړیخیزه ګټه ده.

- خلکو ته د باورې سرچینو څخه د خبرونو رسوول.

- د بیان ازادۍ تر ټولو غوره وسیله او وسله.

- د فیسبوک راتګ او او دانټرنیټي شبکو راتګ سره د بیان ازادۍ ټول محدودیتونه له منځه لاړل.

- له لرې هیوادونو څخه د دوستانو او ملګرو سره په کمه بیه اړیکه نیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په کم وخت او کمه بيه د اسنادو او نورو مالوماتو ليږدول.

- په سمه او غره کې د راديو او تلويزيون په نشتون کې د فيسبوک کارول او هر ډول خبر په تصويري او شننيز ډول تر لاسه کول. ..له دې پرته نورې ګټې هم لري چې خلک د فيسبوک کاروني پر مهال ترې برخمن کېږي.

☜ د فيسبوک زيانونه (Facebook Abortion) :

فيسبوک هغه وخت زموږ په زيان تماميږي چې مونږ خپل ارزښتناک وخت ضايع کول غوره کړو،فيسبوک د ځينو خلکو لپاره اعتياد ناروغي ده چې د سيګرټو يا بلې نشي په څير پرې روږدي شوې وي، څيړنو ښودلي چې د فيسبوک پر کاروني روږدي کيدل د الکولو او سيګرټو د عادت او اعتياد څخه هم بد دی،دا ټولينزه رسنۍ ممکن د حسادت سبب شي او دمنفي رقابتونو لپاره زمينه برابره کړي دا هم کيدای چې د افرادو د شخصي ژوند د رازونو،عکسونو او ويډيوګانو د افشاء سبب وګرځي، فيسبوک د مخامخ اړيکو د کمترۍ او د مجازي اړيکو د زياتيدو سبب کېږي. فيسبوک کې جعلي حسابونه(IDs) جوړول ډير اسانه دی چې خلک دغه ډول حسابونه يا ايډياني زياتره د هغو خلکو د ځورولو او رټلو لپاره کاروي چې دوی يې نه خوښوي،په پايله کې رټل شوی خلک خوابدي کيږي تر دې پورې چې ځيني يې ځان وژنه هم کوې هغه که د هرې لاري وې. فيسبوک کې په زياته پيمانه ګروپونه او پاڼې دي چې نورو دينونو او مذاهبو ته پکې خلاف ښکنځلي او مقدساتو ته يې سپکاوی کوي،د نورو قومونو عناناتو او کلتور ته سپک نظر خپروي او خلکو ته يې بد معرفي کوي،لکه په تيرو وختونو کې امريکا، اسرائيلو او نورو کفري هيوادونو د اسلام ستر پيغمبر حضرت محمد(ص) په ضد نشراتی پاڼې او ګروپونه جوړ کړې و چې اسلامی مقدساتو او پيغمبرانو ته به يې پکښې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکاوې کوه،چې دا ډول کار په نړیواله شبکه کې د خلکو د منلو وړ ندي، له خپلو ادرسونو څخه د دروغو خپرول او خلک په تشویش کې اچول تر څو یې ذهنی تفکر ور خراب کړې. نو هر هغه څوک چې فیسبوک کاروې باید په اړه یې کافي اندازه مالومات ولري.

**فیسبوک ته تل په لاندې اهدافو ننوځي:** لومړی خپله څه زده کړي او نورو ته څه ور وښایاست،څه چې حق وې هغه ولیکئ،د حق په ویلو کې د چا پروا مه کوي،د ظالم په مقابل کې له همدي رسنیو څخه غږ پورته کړي، هغه څه ولیکي چې د الله(ج) په حضور کې پرې پښیمانه نه یاست،د حق پلوي وکړي باطل ته چکچې مه وهي یعني لایک او کمینټ د هغوی په خرابو او باطلو څړونو مه کوي، کومې رسنۍ چې دغرب تر تاثیر لاندې دي او یا هم د هغوي مستقیم ملاتړ ورسره وي هیڅکله یې په خبرو او نشراتو بارو مه کوي، د مقابل لوري نیوکه واوري او د ښکنځلو پر ځای په سړو مغزو ځواب ورکړي اقلاً ته په قلم د یو شخص نمایندګې کوي، د لایک او کومینټ لپاره هیڅ هم مه لیکه ځکه هیڅ هم په لاس نه درځی، دلادینه خلکو لیکنه مه خوښوي مه خرګندونه پرې کوي په داسی حال چې په ځړول شوې موضوع کې پوهه ونه لري ځکه ددي لاري هغه لادینه شخص دیته مایل کیږې چې لادینه او پوچ پوسټونه(څړوني) نورې هم وکړي.

**د انټرنیټ (نړیوال جال) په اړه د یو عالم خپل زوي ته څو نصیحتونه:** ګرانه زویه ټولنیزې شبکې لکه:فیسبوک، ګوګل، ټویټر، یوټیوب او واټساپ دا داسی بحرونه دې چې د خلکو اخلاق ی ډوب کړل! ان ډیر باحیا او با عزته خلک ی په سپکو سپک کړل نو ددې شبکو له افراطي(زیاتې) کاروني څخه ځان وساته،کله دی چې د کارولو اراده وکړه نو بیا د ځان څخه د شاتو مچۍ جوړه کړه،په ګل ګل شیانو ګرځه! له بدو نشراتو، غلطو پاڼو او اړیکو ځان وساته؛ګرانه زویه کله دی چې انټرنیټ کاروه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځان څخه مچ مه جوړوه چې په ښو او بدو دواړو ګرځې چې په ځان خبر هم نه وي او مرضونه له ځان سره انتقالوې. ګرانه زویه! انټرنیټ د یو لوی بازار په څیر دی ځوک پکې وړیا څه نه خرڅوي خامخا یی بیه غواړي یعنی ځوک غواړي چې ستا اخلاق خراب کړې،ځوک غواړي چې ستا فکر او نظر خراب کړي،ځوک بیا د شهرت تږي دي،خو ځوک بر عکس بیا ښه خلک وې چې ستا اصلاح او رغونه غواړي نو د هر چا سره سودا په ښه سوچ او فکر کوه. ګرانه زویه! څه چې خپروې یا نشروې نو له خپرولو ی وړاندې شرعي حیثیت وګوره هسی نه د الله تعالی د قهر سبب وګرځې. **ګرانه زویه**: له مستعار(پټ نومي) ایډیانو څخه ځان وساته ځکه دوي پخپلو ځانونو اعتبار نه لري څه به خلک باور ورباندې وکړي له خلکو به پټ شي خو له الله عزوجل به څنګه پټ شي هغه په پټو او ښکاره شیانو باندې پوهه لري. ګرانه زویه: زه په تا ډیر ویریږم هسی نه د انټرنیت بحر دی غرق نکړي او د حرامو او شهواني ویډیوګانو په کتلو روږدی نشې، که دی حالت ته ورسیدي نو بیا د انټرنیټ نړی څخه داسی وتښته لکه د زمری د حملي له ویري چې خلک تښتي، کنه نو بیا به دی ځای جهنم او الله(ج) ته به شرمنده یی. ګرانه زویه: د شیطان دوه ډیر مضر داموونه دي لومړی غفلت او دوهم شهوت او د انټرنیټ افراطي کارولو پایله په همدې دواړو مرضونو تمامیږي نو پوه شه!چې انټرنیټ ستا د خدمت لپاره دي نه د غفلت لپاره نو کوښښ وکوه چې ته انټرنیټ وکاروې نه دا چې انټرنیټ تا وکاروي،باید تا اباد کړ ي نه دا چې تا ونړوي،د ځان لپاره ی دلیل جوړ کړه،داسی نه چې ستا په خلاف حجت او دلیل وګرځي،یاالله ته شاهد اوسه چې ما خپل مسولیت اداً کړ.!<u>وما علینا اِلاالبلغ المبین</u>

**په فیسبوک کې څنګه ښه نقد کولی شو!؟** لیکنه عبدالهادی حماد صیب: ممکن یو ځوک له ګناه خلاص شی او بل د ازار خلاص شی. درنو ویونکو! په فیسبوک کې حتماً مختلف شیان لیدل کیږي ځینې د کتونکی خوښ وي او ځینی ناخوښ وې،ځینې خوشاله کوونکې وې،ځینې دومره دردونکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي چې بیخی انسان هیجانی کړي، د هرې لیکنې په لیدلو عکس العمل ندی په کار بلکې ګټه کول په کار دي ځکه مقابله ګټل دي ته نه ویل کیږي چې مقابل لوری غوره کړي بلکې مقابله ګټل دی ته ویل کیږي چې ګټه وکړي او ګټه په فکر کولو او مناسبه لاره اختیارولو کې ده. هغه لیکنې چې د کتونکي خوښې نه راځي د هغوي په اړه د هرکس دیني او انساني مسولیت: کومه لیکنه چې ستا خوښه رانغله خامخا کومه خبره شته،یادا چې خبره بیخي غلطه ده او د هغه کس مطلب همدا دی چې دا غلطه خبره نشر کړي یعنی ناسم کس دی،یا دا چې ته سم پرې پوه شوی نه یی تعبیر ی تا غلط اخیستی دی یا ی د ناپوهۍ په وجه دا خبره کړي،نو اوس ستا دینی او انساني مسولیت دادی چې لومړی ښه ورته متوجه شئ او ښه ځان پرې پوه کړئ،که پوه نشوئ شخصي پیغام ور واستوئ چې هغه دی په مطلب پوه کړي،که د هغه مطلب صحیح و هغه ته ووایه چې د مقصد الفاظ دی ښه روښانه کړه،که هغه صحیح نکړه نو په تعلیق کې ورته ولیکه چې زما ددغه ورور مطلیب داسی دی،که پوه شوی چې دده مطلب غلط دی خو په ذات کې دی خپله سم دی او د ناپوهۍ په وجه یی دا کار کړي،نو لومړی دعوت ورته وکړه که پخپله خبره کلک ودریده ستا ورور دی توهین ی مه کوه په تعلیق کې ورته ولیکه یا پر خپله صفحه باندی ولیکه چې دا کس صحیح انسان دی خو د بی علمۍ په وجه باندی ی غلطه خبره پوسټ یا خپره کړي او که پوه شوی چې پوسټ ی غلط کړي دی او دوی هم غلط کس دی نو د هغه مطلب په ښایسته الفاظو کې پر خپله صفحه یا اکونټ صحیح نشر او یا همداسی چوپ پآتی شه،هیڅ جنګ جګړه مخالفت او مقابله مه کوه ګوندې ستا خبرې یو وخت تاثیر ورباندې وکړي اصلاح شي. تر ټولو بده خبره داده چې د هر چا خبره مازی ستا تر نظر بده راغله یو دم ورباندې ور غوزار شی هغه سپک کړي دا ددیني او انساني شرافت تکیا نده،که څه هم ستا دغه نقد پر هوښیارو خلکو تاثیر نه کوي خو ځیني عام خلک ممکن ورباندې خطا شي،ممکن هغه صحیح

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرکوي خو ته نهورباند پوهيږي، حضرت محمد(ص) د مومن مسلمان يو حق دا ايښي دی چې مسلمان ورور به نه توهينوئ،نه به يې ازاروئ او نه به ی سپکاوی کوئ. تاسو فکر وکړي ضرر رسونکي حيوانات دوه ډوله دي:هغه حيوانات چې د نورو په ضرر کې خپلي ګټې ويني لکه؛ليوه،زمری....او داسی نور چې دوي نورو ته تاوان د خپل نس د موړوالی په خاطر رسوي او که موړ وې بيا په چا کار نلري. دوهم هغه حيوانات چې نورو ته ضرر رسوي ګټه ی هم پکښی نه وې لکه مار او لړم. کوم کسان چې د ضرر جرړي جوړي شوی دي هغوې دي خپل مقام وپيژني هره ليکنه چې وګوري سملاسی دی ليکوال نه بی عزته کوې بلکې د خپلي اصولي طريقي څخه دي خپل مسولیت ادا کړې.

**د خوښو شويو ليکنو په اړه  د کتونکې مسوليت:** محترم کتونکيه! دا خبره ښه واوره چې هره ليکنه ستا خوښه راغله دا يقيني نده چې هغه به خامخا ښه ليکنه وې بلکې ته خپله خوښه د حق معيار مه جوړوه بلکې د خوښي معيار حق جوړ کړه ځکه که ته ناسمه ليکنه خوښه او تايئد کړئ ممکن په هغو کسانو کې شامل شئ چې شهادت الزور والا دي،شهادة الزور والا رسول الله(ص) سخت غندلي دي يعني په ناحقه شاهدي ويونکي،سره ددی چې په اسلام کې ی منع شوي ده،د ناسمو ليکنو تايئد د ټولنی سره ستر خيانت دي،ستاسو يو کميټ يا لايک ممکن ستا د کبيره ګناه سبب جوړ شي،هره ليکنه دی چې خوښه شی هغه نشر کړه او وې ستايه خو ادبي غلا مه کوه يعني دا چې کله دی نشروله د ليکوال نوم ورسره ذکر کوه! که يې ذکر نکړئ خلک ی پيژني بيا پر تا اعتماد نکوئ.!

**د فيسبوک(مخ کتاب) تاوان۲:** زياتره هغه ورونه او خويندي چې په پوهنتون او مکتب کې زده کړې ترسره کوي ډير د سوشيل ميډيا تر اشغال لاندي او ډيره کارونه ی کوي او ارزښتناک وخت بی ځايه ضايع کوې حتاء ما داسی شاګردان هم ليدلي چې ښوونکی درس تدريس کوې او دوي په خيالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ یعنی فیسبوک کې مصروف وې،نو معمولاً باید د پوهنتون او مکتب شاګرد له فیسبوک او نورو کاریالونو څخه لرې ځانونه وساتي او کارونه یې باید دقیق او معلوم وخت ولري،هیره دې نوې چې د افغانستان وګړي له دې هر څه سره نوي دي نو ډیر احتیاط په کار ده تر څو مو هیواد د فکري یا انټرنیټی جګړي ښکار نشی لکه څنګه مو چې اوس ورته د ښکار زمینه برابره کړې او هیواد مو د سوشیل میډیا په دروغجنو پردو پټ ده،دلته په افغانستان کې د فیسبوک زیاته سلنه له خرافاتو ډکه ده نه له معلوماتو. ډیرۍ افغانان چې فیسبوک ته ننوځي لیکي؛دوستانو سهار پخیر،ماښام پخیر،چیرته ورک یې،ما اوس چای وڅښه،ما اوس ډوډۍ وخوړله،زه فیسبوک کې مین شوې یم،نن زه پول نیشه یم،زړه مې تنګ دی،مجرد یم او دیته ورته نورې زیاتې بې ګټې جملې چې دا ټولي لیکنې پر فیسبوک د هغو خلکو دی چې دماغي سټړیا لرې او نشی کولی چې زیات څه ولیکي یا ولولي حال دا چې سوشیل میډیا ی ددې مرض د لازیاتوني سبب کیږې. نو که چیرته ددې پر ځای دوه خبرې د اسلام،دین او نصیحت ولیکۍ یا یې هم راکاپي کړي او نشر یې کړي نو هم به ی ثواب وې او هم به یې نورو ته ګټه رسیدلې وې او هم به خدای(ج) او رسول تري خوشاله وې.

**فیسبوک لکه بازار**؛هر څوک پکښې ګډون کوي خو خوشبخته دی هغه څوک چې یو انصافداره خرڅونکی پکښې ومومي تر څو ښه څه تر لاسه کړي،که تاسو فکر وې بازار کې هم مشتریان تر خرڅونکو ډیر وې،همداسې د فیسبوک کتونکي تر لیکونکو زیات وې،نو پر همدي بنیاد مو اند او نظر ستاسو لپاره داده که وخت ولرۍ نو هڅه وکړي چې یو داسې څه خپاره کړۍ چې ټولنې ته ګټه وکړي،هیڅکله د چا دتوهین کوښښ مه کوۍ ځکه هر څه چې ته لیکۍ دا کم از کم زرګونه خلک او کاروونکي ویني،نو که خدای مه کړه دا له حقیقت څخه لیري وې،نو په اخرت کې به ی ته هم حساب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ورکوئ او ممکن دلته هم د شخړې لامل شی. بله دا چې د هر سوشیل میډیا کارونکی څرونې یا نشرات معلوم وې هغه دا چې یاهم...**

**- اسلامي لیکنې**

**- معلوماتي**

**- ساینسي**

**- اجتماعي**

**- سیاسی**

**- شعر او ادب**

**- روزنیزې**

**- خبرونه او راپورونه**

**- تنقید او تحلیل**

**- ذهنې او اسلامی سوالونه.**

**نو که موږ او تاسو د ځان لپاره یو خاص مسیر ولرو همیشه به مو ملګري او الله(ج) راڅخه راضي او خوشاله وې. نیت مو باید په فیسبوک کې د ځان شهرت نه وې بلکې اسلام او ټولنې ته خدمت وې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فیسبوک او اخیرت:** هر کله چې یو کس په فیسبوک یا نورو ټولنیزو شبکو کې ګډون کوي او خپل پیژنیال جوړوي،نو دا پیژنیال ددوي د ښو او بدو څرګندونه کوي او همدارنګه دا ددوي د ژوند او اخرت راتلونکی ټاکي،که چیرې فیسبوک کارونکی ښې لیکنې یا پوستېونه کوي چې د اسلام، دین او ټولنی د اصلاح لپاره وي نو هر څوک دده لیکنې خوښوي ځکه دا په واقیعت کې دوي اسلام او ټولنی ته خدمت کړې،که څوک وغواړي د یو فیسبوک کارونکی اخلاق،ملګري،کورنی او د ژوند کړه وړه یې وپیژني نو دا ډیره اسانه ده اوس ژر تر ژر یې د فیسبوک اکونټ(پیژنیال) ته ی ځي او په اسانۍ سره ی تعرف پیدا کوي. همدارنګه دا د نړۍ مسلمانانو لپاره ښه چانس ده تر څو د انټرنیټي او فیسبوکي خدماتو له لارې اسلام او اسلامی قواعد تر کفري نړۍ پوري ورسوي،ځکه دا یوه ازاده رسنۍ ده چې په اسانۍ سره کولی شو اسلام ته پرمختګ ورکړو هغه که د نړۍ په هره ژبه کې وې موږ و تاسو باید د اسلامی قواعدو د ودې لپاره ځړوني(پوستېونه) وکړو تر څو خدای او رسول راڅخه راضي واوسي او په اخرت کې مو هم غاړي خلاصي او شرمنده نه یو. هسی هم دا فرصت موږ ته کفارو خپله په لاس راکړي،یعنی فیسبوک او انټرنیټ ی د خپلو اهدافو لپاره راجوړ کړل او ډیر څه یی تر لاسه کړل،خو البته اسلامی امت تر اوسه خپل اهداف ندي پیژندلی ځکه خو تر اوسه د فحاشۍ په اهدافو پسی ګرځي چې هغه هیڅکله هم نه پوره کیږي،دا هغه شیان دي چې اسلامی امت یی ښکار شوي،دغه ټولي ټکنالوجۍ له اوله د اسلامي اُمت په لاس کې وي خو دوي تر اوسه پدی اونه توانیدل چې یو څه اختراع کړو،دا چې انټرنیټي تکنالوجي هم کفارو راجوړه کړه خو اوس هم موږ نشو کولی چې تر هغوي اسلامي لیکنې د همدې لارې ورورسوو، په ننی عصر کې که د افغانستان اسلامی امت ته وګورو زیاتره برخه ی ډیر وخت په فیسبوک کې عبث

(c) ketabton.com: The Digital Library

فحاشۍ او د اسلام ضد مواد خپروې دا د دوي د اخیرت په خرابوالي دلالت کوي،دوي په پیسو ځانته دوزخ لټوي،لکه څنګه چې صحیح حدیث ژباړه هم ده (ټول عبث شیان حرام دي) نو فکر وکړي د حرامو تر سره کوونکو ځای دوزخ نده،نو پر همدې بنیاد چې ژوند او اخرت مو جوړ شی کوښښ به وکړو چې اسلامی،ادبی او اصلاحي ځړوني وکړو، تر څو بد عمله او ناپوه وګړي ستاسو له لیکنو متعثره شي او که چیرته تاسو پر فیسبوک موزیک یا سندرې نشروي نو دا په یقیني ډول پاتي کېږي او کله هم چې د همدې رسنۍ کارونکي یی ګورې تاسو به یی تر اخرته سزا وینئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم فصل

## عمومي مالومات

لکه څنګه مو چې مخکې وویل چې فیسبوک یوه ټولنیزه ویب پاڼه د چې په ۲۰۰۴ میلادی کال د مارک زوکربرګ او هاردورډ پوهنتون کې ی د کوټې ملګرې په مرسته جوړ او په لوبیز ډول یی په کار پیل وکړ. د فیسبوک همدي موسسینو په لومړیو کې د ددي ویب پاڼي غړیتوب یوازې د هارورډ پوهنتون په زده کونکو پورې ځانګړی کړی وو،چې وروسته یی نورو پوهنتونونو او دولتي اداراتو ته پراخوالی وموړه چې اوس عام ده، نن ورځ فیسبوک د نړی یوه لویه ټولنیزه شبکه ده چې په ټوله نړی کې له دوو میلیاردو څخه زیات کاروونکي لرې.

**پوهان څه وایې!:** که څه هم په لسګونه میلیونه کسان هره ورځ لږ تر لږه یو ځل د فیسبوک پاڼې ته ننوځي خو ددي جهاني شبکې په اړه مالومات نه لري! پوهان وایی چې د فیسبوک او ګوګل په څیر پاڼې د کاروونکو په اړه ددوي د مور، پلار،د کورنی غړو،نږدي ملګرو او حتاء د پولیسو په پرتله څو برابره زیات مالومات لري نو له همدې وجي د فیسبوک او ګوګل نه ویره په کار ده.

۱- ستاسی په اند د نړی څومره کسان فیسبوک کاروې؟ د وروستیو شمیرو له مخې هره میاشت شاوخوا ۲ میلیارده انسانان فیسبوک په فعال ډول کاروي،پدې ډول که چیرې فیسبوک یو هیواد وای نو د چین نه وروسته به یی د نړی له ټولو ګڼ میشتي هیواد نوم خپل کړی وای،دا ځکه چې یواځې ۳۰ میلیونه یی مړه یا وژل شوي دي او په فیسبوک کې ی اکونټونه یا پیژنپالونه فعال دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- که چیرې فیسبوک وتړل شي څه کېږي؟ د اوس لپاره د فیسبوک پاڼې تړل کیدل امکان نه لري،ځکه چې حتاً ددې شرکت مشر مارک زوکربرګ هم ددې صلاحیت نه لري! د یوې تخنیکي ستونزې په پایله کې د فیسبوک دپاڼې موقتي تړل کیدل کیدای شی دي شرکت ته په میلینونه ډالره مالي زیان رسوي له دی سره د فیسبوک پاڼې تخنیکي ستونزو له امله د تړل کیدو پر مهال هره دقیقه کې ۲۵ زره ډالره زیان کوي. اوس تاسي فکر وکړي چې دا سایټ څومره ګټه کوي.

۳- آیا د فیسبوک ناروغۍ په نامه مو څه اوریدلي؟ په امریکا، چین او یو شمیر زیاتو نورو هیوادونو کې د رواني ناروغۍ پوهان اوس فیسبوک د اعتیاد یا رواني ناروغۍ په کشف سره همغږې دي، په یو شمیر هیوادونو کې د فیسبوک ناروغۍ د درملني لپاره حتاً ځانګړي مرکزونه هم جوړ شوي تر څو یی تداوې وکړي.

۴- که یو څوک مو په فیسبوک کې د ملګرو له لیست څخه وباسي څه کوئ؟ په نړۍ کې تر اوسه پورې لسګونه کسان د ملګرو له لیسته د نورو د ویشتلو له امله وژل شوې دي ،حتاً ښکنځل بد رد ویل او د امکان په صورت کې مخامخ جنګ کول عادي کار بلل کېږي.

۵- آیا د فیسبوک او شخصي ژوند تر منځ پرده کش کولای شو؟ د فیسبوک پاڼه ددې توان لري چې کاروونکو په اړه ټول محرم مالومات په اسانۍ سره نشر کړي،حتاً که چیرته تاسي په فیسبوک کې د خپلې پاڼې څخه وتلې هم یاست،د بیلګې په ډول په موبایل کې د ګیم وهلو پر مهال ستاسی مالومات په فیسبوک کې نشریږي، ځکه هر ګیم د فیسبوک کارونکې دجاسوسۍ لپاره اچول شوي، ددې ښه بیلګه د **candy** په څیر د ګیمونو د بلنې لیږلو پر مهال په غیرې مستقیم ډول له نورو سره ستاسئ د معلوماتو شریکول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**٦- آیا کله مو په فیسبوک کې ملګري لټولي؟ په فیسبوک کې کاروونکي هره ورځ یو میلیارد ځله د خپلو ملګرو،پاڼو،ګروپونو او نورو کسانو د موندلو لپاره لټون کوي،پدي اړه مالومات هم د فیسبوک دشرکت په مرکز کې ثبتیږي.**

**٧- تاسو په ورځ کې څو پوسټونه (ځړوني ) کوئ؟ څه موده وړاندي یواځي په ۲۰ دقیقو کې یو میلیون او ۸۵۱ زره پوسټونه پر فیسبوک نشر شول! دا شمیر د هیوادونو دسیاسی او ټولنیزې اجندا په اساس ځیني وخت بدلون مومي.**

**٨- آیا پر فیسبوک هره ورځ انځورونه خپروئ؟ څه موده وړاندي یواځي په ۲۰ دقیقو کې دوه میلیونه او ۷۱٦ زره انځورونه خپاره شول چې دا شمیر د هرې ورځي په تیریدو سره بدلیږي.**

**٩- آیا د فیسبوک د پاڼي(دفیسبوک شرکت) هیک کول امکان لري؟ د نړۍ د یو زیات شمیر سایټونو هیک کول لوی جرم دی. خو که چیري څوک وتوانیږي چې د فیسبوک پاڼه هیک کړي نو ددي اداري لخوا ورته ستره جایزه ورکول کیږي.**

**١٠- پر ورځ کې په فیسبوک کې څومره وخت تیروئ؟ په نړۍ کې د فیسبوک کاروونکي په اوسط ډول له ۳۰ څخه تر ۴۰ دقیقو پوري وخت د فیسبوک په کارولو تیروي، دا موده د هیوادونو په پرتله توپیر لري د بیلګې په ډول په امریکا کې د فیسبوک کاروونکي هره ورځ ۵۰ دقیقي وخت په فیسبوک کې تیروي.**

**- د فیسبوک ګروپ: د فیسبوک ګروپ په وسیله کولی شو له ځانګړو خلکو(کورنۍ،ملګرو،ټولګیوالو او کارونکو) سره یو ځای و اوسو. د فیسبوک ګروپ بیل شوی تش ځای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې معلومات،انځورونه،اسناد او پیغامونه کې شریکولی شو،زده کونکي کولی شي د فیسبوک گروپ څخه په گټې اخیستني خپلې زده کړې پر مخ بوزي یعني هغه کورنۍ دندي او پروژي چې ورسپارل شوې یاهم د ازموینو په اړه له یو بل سره معلومات شریک او له خپلو ښوونکو سره مشوري وکوې.

- فیسبوک پاڼه: فیسبوک پاڼه د تجارت،ادارو او برانډ لپاره کارول کېږي تر څو د پنځو زرو څخه پورته وگړو سره په اړیکه کې و اوسې. نن سبا د هر ځای خلک له فیسبوک سره بلد دي، دا بلدتیا موږ ته دا موقع راکوې چې د نورو هیوادونو له کلتور رسم او رواج سره بلد او په او په هیواد کې یې مخنیوې وکړو خو البته موږ نه یو توانیدلی چې ددی فکري جگړې مخنیوی وکړو، فیسبوک زموږ د احساساتو او هغه څه چې زموږ په ژوند کې پیښیږې لکه خوشالی،خاطري،لاسته راوړني،خواخوږې اوخپگان له نورو سره دشریکولو اسانه لار ده. فیسبوک پاڼه او گروپونه چې ورځ تر بلې مشهوریږې د ادارو او شرکتونو یا هم د خاصو خلکو د اعلاناتو لپاره تر ټولو مناسب ځایونه دي او ددی پرمټ کولی شي د خپلو بیلابیلو تولیداتو په اړه له خپلو مینه والو سره په اسانۍ مالومات شریک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټيکنالوجيکي توکو ځيني ستري کمپنۍ په يوه دقيقه کې څومره ګټه کوې؟

**که څه هم ددي سترو کمپنيو ګټه دهرې ورځي،اوونۍ او مياشتو په تيريدو تغير کوې او د لوړيدا پر لور رواني دي کيداى شي اوس يې ګټه تر دى لوړه وې.**

**- ايپل(Apple) کمپنۍ: په يوه دقيقه کې 71288 امريکايي ډالره ګټې.**

**- سمسونګ (Samsung)کمپني: په يوه دقيقه کې ۵۵۰۰۳ امريکايي ډالره ګټه لرې.**

**- ګوګل (Google) يوه دقيقه کې ۲۳۵۰۹ امريکايي ډالر ګټي.**

**- مايکروسافټ کمپنۍ: يوه دقيقه کې ۴۳۰۸۲ امريکايي ډالر ګټي.**

**- ټويټر(Twitter): په يوه دقيقه ۱۴۴۲ ډالر کټي.**

**- امازون کمپنۍ: پر دقيقه ۱۴۳۴ ډالر لاسته راوړي.**

**- اى بى(IB) کمپني: يوه دقيقه کې ۴۵۹۷ امريکايي ډالر کټي.**

**- فيسبوک (FACEBOOK) : پر دقيقه ۳۰۸۷ ډالر ګټي.**

**- لين کډاين: دقيقه کې ۵۲ ډالر ګټي.**

**- ايچ پي (HP): کې ۹۸۴۱ امريکايي ډالر ګټي.**

**- ياهو (Yahoo) : ۹۲۴ امريکايي ډالر ګټي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**- سوني (Sony) : په یوه دقیقه کې ۱۹۵۲ امریکایی ډالر ګټي.**

مارک زوکربرګ



(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ټولنيزو رسنيو سايټونو،شبکو او ويبلاکونو ته لنډه کتنه:

په ۱۹۹۴م کال کې (BHI) Beverly Hills Internet شرکت پدې بريالی شو چې د لومړي ځل لپاره د ټولنيزو شبکو يو سايټ (جيو سايټgeocite ) رامنځ ته کړي،چيرې چې کاروونکي پدې وتوانيدل چې شخصي ويب سايټونه رامنځ ته کړي له دی سره سم په ۱۹۹۷ کې د جيو سايټ کاروونکو شمير له يو ميليون څخه زيات شو. په همدې کال ياهو (yahoo) د پلټني د يو ستر ماشين په توګه نړۍ ته وړاندی شو،چې جيو سايټ يی وپيرله (واخيست) او د جاپان لپاره يی د ويب هاستېنګ په شکل پشنهاد يا وړاندې کړ. په همدې کلونو کې له ۱۵۰۰ څخه زيات ويب خدمات رامنځته شول او خلکو انټرنيټ ته د يوې لوی لارې په حيث ورمخه کړه. په ۱۹۹۷م کې لومړنۍ ټولنيزه شبکه د سيکس ډيګري (Sixdegrees.com) په نامه رامنځته شوه او خپلو کاروونکو ته يی د خپلو ځانونو لپاره د پيژنيال جوړولو او ملګرو د ليست کولو اجازه ورکړه. په ياد کال ټولنيز بلاګونه هم رامنځته شول چې له دی سره ويب د يو ميليون سايټونو خاوند شو. په کال ۱۸۹۸م کې ګوګل د يو لوي پلټونکي ماشين او index مکتب حيث پرانيستل شو. په ۲۰۰۱ کال کې ويکيفډيا (Wikipedia) انلاين دايرت المعارف (encyclopedia )د نړۍ تر ټولو لويه وی کيز wikis په فعاليت پيل وکړ او ايپل کمپنۍ خپل ای پوډز (ipods) خرڅول پيل کړل. په ۲۰۰۲ کې د (Friendster ) چې د ټولنيزو شبکو له جملې څخه يو ويب سايټ دی چې په امريکا کې د عامو خلکو پر مخ خلاص شو او په دريو مياشتو کې يی د کارونکو شمير تر ۳ ميليونو ورسيد. په کال ۲۰۰۴ کې فيسبوک د ټولنيزو رسنيو څخه د هارډورډ په پوهنتون کې د زده کوونکو لپاره د زده کړې پر موخه رامنځته شو. وروسته د fliker فليکر سايټ جوړ شو چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

**عکسونو پورته کولو لپاره ترې کار اخیستل کیده،همدارنګه Digg؛ د ټولنیزو خبرونو ویب سایټ رامنځته شو چې خلکو خبرونه او تازه پیښې پکې له یو بل سره شریکولي. په ۲۰۰٦ کال کې د my space په نامه ویب سایت په متحده ایالاتو کې رامنځته شو چې هر میاشت د کارونکو په شمیر کې زیاتوالی راته، په همدې کال ټویټر د ټولنیزو شبکو او مکرو بلاکنګ سایت په حیث رامنځته شو چې خپلو کاروونکو ته ی وړتیا ورکوله چې د ۱۴۰ حروفو په اندازه پیغامونه (tweet) ولیږي. په همدې ذکر شوی کال ګوګل د ۲۵ میلیونو ویب پاڼو، ۴۰۰ میلیون پوښتنو او ۱,۳ بیلینو عکسونو لرونکی شو همدارنګه په ۲۰۰۸ کې یی د ټویټر اخیستو ناکامه هڅه وکړه. په ۲۰۰۹ کال کې فیسبوک د ډیرو کاروونکو د لرلو په اساس د ټولنیزو رسنیو په لومړي قطار کې ځای ونیو او په ټوله نړۍ کې ی د کاروونکو شمیر له ۲۰۰ میلیونو څخه زیات شو او ددی سایټ ازدحام د مای سپیس دوه برابره شو. په کال ۲۰۱۰ کې فیسبوک په ډیری تیزۍ سره د ۴۰۰ میلیونه کاروونکو څښتن شو، په همدې کال په امریکا کې د ډیموکراټ ګوند ملی کمیټي د ټولنیزو شبکو مدیریت ته خبرداری ورکړ چې د ریس جمهور بارک حسین اوباما د فیسبوک،ټویټر او مای سپیس اکاونټونه وڅاریې. په ۲۰۱۱ کې ټولنیزي رسنۍ هر چیرته د لاس رسی وړ شوي چې له دی سره د فیسبوک ورځني کاروونکي ۵۵۰ میلیونه، ټویټر ٦۵ میلیونه ټویټ یا پیغامونه لیږدل، یوټیوب کې هره ورځ ۲ میلیونه ویډیوګاني کتل کیدي او ۹۰ میلیونه مسلکې کسان یی درلودل. په ۲۰۱۲ کې د فیسبوک کاروونکي یو بیلیون ته ورسیدل. په همدې کال د یوټیوب کاروونکي ۸۰۰ میلیونه شول او هر کال یی ویډیوګاني تر یو ټریلیون ځلي کتل کیدي تقریباً د هر فرد پر سر ۱۴۰ ځلي کتل کیدي په داسې حال کې چې یوټیوب په ۴۳ هیوادونو کې فعال ده، ٦۹ شپیته ژبي پکې استعمالیږي او په هره دقیقه کې ۷۲ ساعته ویډیوګاني**

(c) ketabton.com: The Digital Library

پکې پورته کیږي،له دی سره په هره میاشت کې تر ۴ بلیونه ساعته څخه زیاتي ویډیوګاني پر یوټیوب کتل کیږي. په کال ۲۰۱۳ کې ټویټر له ۵۰۰ میلیونه زیات کاروونکي پیدا کړل پداسې حال چې له ۲۰۰ میلیونو یی زیات هره ورځ فعال وو او په همدې کال یاهو (yahoo) د ټولنیزو شبکو ټمبلر بلاکینګ (tumbler blogging) کمپنۍ له ۱۷۰ میلونو کاروونکو او ۱۰۰ ملیونه بلاګونو سره واخیست. په یاد کال کې یوی سروې وښودله چې په استرالیا کې ۳۴٪ خلک د خپل کار په جریان کې په ټولنیزو رسنیو کې فعال وي، ۱۳٪ یی پر مکتبونو کې، ۱۸٪ یی د موټر چلولو پر وخت، ۴۴٪ یی د خوب کولو په بستر باندې، ۷٪ یی پر تشنابونو کې او ٦٪ یی د خپل سنګار پر وخت د ټولنیزو شبکو په سایټونو کې وصل وو. په ۲۰۱۴ کال کې د نړۍ ۱،۷ بیلونه خلکو څخه شاوخوا ۸۵٪ یی انټرنیټي خدماتو ته لاس رسی پیدا کړ، د مثال په ډول دچین انټرنیټی نفوس په لومړي ځل ٦۳۲ میلیونو ته ورسید، د انټرنیټ ډیر کارونکي د موبایل،ټلیفون،سمارټ فون او pc شخصي کمپیوټرنو څخه استفاده کوي. د ټولی نړۍ تقریباً ۲۵٪ نفوس د ټولنیزو رسنیو څخه استفاده کوي په داسی حال کې چې زیاتره ی یوه یا زیاتي ټولنیزي شبکي استفاده کوي.

❖ **د فیسبوک جالبي!:** د ۲۰۲۰ کال د څیړنو په اساس فیسبوک ۲،۷ بیلیونه (۲،۷۰۰،۰۰۰،۰۰۰) څخه زیات میاشتني کاروونکي لري. فیسبوک تر دی دمه ۳۰ میلیونه مړه اکونټونه یا پیژنیالونه لري چې بیخې تعجبي ده خو که فکر وکړو د ۲،۷ بیلیونه کاروونکو څخه لکه یو فیصد چې وژل شوي وي،له دی سره په څنګ کې هره ورځ ۸۰۰۰ کسان له فیسبوک سره مخه ښه کوي یعني یا مړه کیږي یایی اکونټ ختمیږي،او برعکس هره ورځ ۵۰۰۰۰۰ کسان ایډیاني یا فیسبوک

(c) ketabton.com: The Digital Library

فروفایلونه جوړوي. په افغانستان دننه زما په شمول د فیسبوک کاروونکو شمیر (۴۰۰۰۹۲۴) څلورمیلیونه و نهسوه څلرویشت ده چې دا شمیر ورځ تر بلې زیاتیږي... د فیسبوک مشر مارک زکربرګ د امریکا،کالیفورنیا ایالت په پالو التو سیمه کې په ۵۰۰۰ مربع فوټه ځای(کور) کې ژوند کوي او مارک په ۲۰۱۱ کې د کریسنټ پارک تر څنګ د خپل ګاونډي کور په ۷ میلیونه ډالرو کې پیرود کړ.



Mark Zukerberg home

فیسبوک په ۲۰۱۹ کې د مارک زکربرګ لپاره په امنیتي او خصوصي هوایی (CEO) سفرونو کې له ۲۳ میلیونه ډالرو ډیر مصرف کړی.دا مصارف په ۲۰۱۸ کې شاوخوا ۲۰ ملیونه او په ۲۰۱۷ کې ۹,۱ میلیونه ډالره و. راپورونه دا هم ښیی چې زکربرګ د خصوصي الوتکي لګښتونو لپاره ۲,۹۵ ملیون ډالرو ته اړتیا لري،ځکه چې هغه په ۲۰۱۸ کې د خصوصي هوایی سفر لپاره ۲,۵۹ ملیون ډالر او په ۲۰۱۷ کې یی ۱,۵۲ ملیونه امریکایی ډالر مصرف کړل. فیسبوک ۳۳٦۰٦ کارکوونکي لري تر څو دا شرکت اداره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فیسبوک په چین کې:** دا ټولنیزه رسنۍ په ګرده نړۍ کې په میلیادونه فعال میاشتني کاروونکي لري چې له دي جملې یې چین هیواد ځان ګوښه کړې او په لومړیو کې هیڅ چینایی نشول کولی چې پدي ټولنیزه شبکه کې ګډون وکړي دا ځکه چې فیسبوک په چین کې د ډیرو نورو ټولنیزو رسنیو چمتو کوونکو سره منع شوی دی او په دي وروستیو کې یې یو شمیر چینایی اشخاصو د یوې پیچلی لاری ځان فیسبوک سره وصل کړی، د چین حکومت د انټرنیټ مینځپانګي کنټرولوي او هغه مینځپانګي محدودوې،حذفوي یا بندوې چې د دولت په ګټه ندي.له دي سره په څنګ کې وټساپ،انسټاګرام،ویکی پیډیا،مایکروسافټ،یاهو،ټویچ ټیوي،ټویټر،بی بی سی،نیویارک ټایم او زیاتي نوري ټولنیزي رسني منع کړي دي...او ټیک ټوک د چین هیواد یو له مشهورو کاریالونو څخه ده چې په امریکا او جاپان کې یې کاروونه بنده ده.

## Facebook user and demographics statistics:

**There are 2.37 billion monthly active users (as of 2018).**

**Over 1bn of those are mobile-only user.**

**There are 1.49 billion daily active users.**

**47% of Facebook users only access the platform through mobile.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**83% of parents on Facebook are friends with their children.**

**Facebook adds 500,000 new users every day; 6 new profiles every second.**

**65% of US adults use Facebook. 52% of them use it several times a day.**

**Worldwide, 26.3% of the online population use Facebook.**

**The average (mean) number of friends is 338, and the median (midpoint) number of friends is 200.**

**Half of internet users who do not use Facebook themselves live with someone who does.**

**Of those, 24% say that they look at posts or photos on that person`s account.**

**Facebook usage statistics;**

**30% of internet users use Facebook more than once a day.**

**40% of people said they would share their health data with Facebook.**

**45% of people get news from Facebook.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**There are an estimated 81 million fake Facebook profiles.**

**The most popular page is the Facebook main page with 213m likes. Samsung are second with 159m, while Cristiano Ronaldo is third with 122m.**

**Facebook accounts for 62% of social logins made by consumers to sign into the apps and websites of publishers and brands.**

**200 million people use Facebook lite- the app for the developing world`s slow connections.**

**Facebook takes up 22% of the internet time American's spend on mobile devices, compared with 11% on Google search and YouTube combined.**

**Users spend an average of 20 minutes per day on the site.**

**In a month, the average user likes 10 posts, makes 4 comments, and clicks on 8 ads.**

**Hive is Facebook data warehouse, with 300 petabytes of data.**

**Facebook generates 4 new petabytes of data per day.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Users generate 4 million likes every minute.**

**More than 250 billion photos have been uploaded to Facebook.**

**This equates to 350 million photos per day.**

**Facebook marketing statistics:**

**Facebook`s revenue from ad spend is 1.9x bigger in 2019 compared to 2017.**

**There are over 60 million active business pages.**

**Over 2bn people can be reached through Facebook ads.**

**But only 6 million of those businesses pay to be active advertisers.**

**Although 75% of brands will pay to promote posts.**

**Facebook claimed 19% of the 70$ billion spent on mobile advertising worldwide in 2015.**

**78% of Facebook advertising revenue comes from mobile ads.**

**Average advert click through rate on Facebook is 0.9%.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Although adding a CTA button can lift click-through-rate by 2.85 times.**


**In 2015, Facebook average advertising revenue per user was US$11.96.**

**49% of users like a Facebook page to support a brand they like.**

**40% of users don`t like any brand pages meaning paid adverts are the only way to reach them.**

**Mobile advertising represents 80% of Facebook advertising revenue.**

**Posts published on Thursday and Friday receive the highest engagement.**





(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب په اړه

د کتاب لوستل او ليکل د ژوند له مهمو ارزښتونو څخه دي،نو زما هڅه هم همدا وه تر څو د فيسبوک په باره يو لنډ او پر مفهومه کتاب په ژوند کې اضافه او هيوادوال ترې برخمن شي ، پدې (فيسبوک او افغانان ) تر نامه لاندې کتاب کې ما هغه څه ليکلې او راژباړلي چې د فيسبوک دمخه يي بايد هر کارونکی ولولې تر څو ددي ټولنيزې رسنۍ په باره دقيق پوه او د معلوماتو په هکله يی شتمن و اوسي ،ددې کتاب موخه همدا ده چې څنګه مو ځوانان او نور د فيسبوک سمې کارونې ته راوبلو او ولی فيسبوک کاروو؟ د څه لپاره جوړ شو؟ چا جوړ کړ؟ او ديته ورته نورې ډيرې پوښتنې مو شايد ذهن کې پرتې به واي! او دلته به مو يې ځواب موندلی وې،خدای ج دی وکړي چې له دي وروسته يې ښې او بدې کارونې ته پام وکړو. وما علينا الاالبلغ المبين

له لوستلو مو نړی مننه

هيله کوم چې د کتاب له راښکته کولو وروسته
يی نورو ته هم درسره واستوئ!؟

Stut7748@gmail.com

Facebook: www.س.پام or Sami Paam

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیکوال لنډه پیژندنه

ښاغلی سمیع الله پام د عبدالله محمدي زوی،د پکتیا ولایت سیدکرم ولسوالۍ اوسیدونکی چې په کال ۱۳۷۵هـ د همدې ولسوالۍ د کوهسین سیمې په یوه دینداره کورنۍ کې دې دونیا ته سترګې وغړولي؛استاد سمیع الله پام خپلې لومړنۍ دینې او عصري زده کړې یې په خپل ټاټوبي کې پیل چې په ۱۳۸۳هـ کال د کوهسین عالي لیسه کې شامل او قرار،قرار یې د علم په سمندر کې خپل یون پیل کړ، په ۱۳۹۵هـ کال په عالي درجه له یاد ښوونځي فارغ او د کانکور په ازموینه کې یې د خپلې بریالۍ نتیجې په خاطر یو کال اماده ګې تعقیب کړه،همغه وو چې د خپلې خوښې پوهنځي(انګلیسي ادبیاتو) ته کامیاب او له څلور کلن څنډ وروسته یې له یاد پوهنځي څخه په ۱۴۰۰هـ کې د قدر سند په اخیستو فارغ شو. محترم استاد سمیع الله پام یو چاپ شوی اثر چې په اوس وخت کې ورته ډیره اړتیا لیدل کیده (Short Prophetic Life) تر نامه لاندې په انګلیسي ژبه چاپ او خپلې ټولنې ته یې وړاندې کړ. په پای کې زه ښاغلي سمیع الله پام ته په ورځنیو چارو کې د لا بریا تر څنګ خپل لاسونه کریم رب ته لپه کوم چې الله [ج] د اسلام په ننګه د وطن خادم او رښتنونی بچای جوړ کړې .

[پوهیالی سیف الرحمن "ګیله من"]



(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه



www.Bigtunaonline/iStoct

www.en.m.wikipedia.org

www.independent.co.uk

www.Mizter X94/Pixabay

www.mindmatters.ai

www.History.facebook

www.investor.fb.com>resorces

www.Samiullah Paam

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library